لیکوال: نظرمحمد مطمئن

۲۰۱۴/۰۸/۱۸

# د عامې روغتیا وزارت او معالج ډاکټر د پام وړ

اوسمهال مو ولس له هر لورې ځپل شوي له هیچا هم خوشاله نه دي، مامور په دولتي اداره کې ورڅخه رشوت اخلي، زوروواکي او د پارلمان ځیني وکیلان یې کورونه او ځمکې غصب کوي، بهرنیان یې وژني او له کوره یې پسې اخلي، اربکیان یې کور او جیب لوټ کوي، پولیس یې تهدیدوي، په اختطاف کې لاس لري، امنیت د نیولو بهانه ورته جوړوي، طالب ډوډۍ غواړي، وهل او ټکول کوي، انجنیر په پروژه کې خیانت کوي، کیفیت یې خرابوي، ډاکټر د سلو روپو پرځای د زر روپو نسخه ورته لیکي، ښوونکی له زده کوونکې د هغه د کامیابي له پاره رشوت غواړي، او د زده کوونکو سره مرسته شوې مواد یې د ښوونځي مدیر غلا کوی او خرڅوي، د کانکور سوالونه د ټلیفون په مسج کې دلوړو زده کړو وزرات کارکوونکي خرڅوي، د طب پوهنځي ته د تګ له پاره ۳۰۰۰ ډالر رشوت په کار دی، د ولس رایه جان کیري باطل اعلانوي، ولسمشر یې د وژلو او بې کوره کولو پرواه نه لري. او دا ډول بلا نورې ستونزې شته چې ولس مو سر ورڅخه ټکوي او ورسره لاس او ګریوان دی.

ملګرې مې د جلال آباد ښار کې د رختونو (کپړو) پلورنځی لري، هغه وایې چې څو تنه ځوانان راغلل، د ځانو له پاره یې جامه خوښه کړه، دهرې جوړې ۱۰۰۰ روپۍ شوې، کله چې یې پیسې راکولې، ویې ویل چې موږ محصلین یو لږ نور مراعت هم راسره وکړه، ورته مې وویل چې کومه پوهنځي کې یاست، هغوئ وویل د ننګرهار طب پوهنتون محلصین یو، ورته مې وویل که زه خبر وای چې تاسې ډاکټري وایاست، نو د ۱۰۰۰ روپیو پرځای مې ۲۰۰۰ روپۍ درڅخه اخستلې.

کله چې تاسي ډاکټران شئ بیا نو د غریب او بې وزلې افغان ملت هیڅ ډول فکر درسره نه وي، یواځې دافکر درسره وي چې څه ډول د خپل غریب ولس جیب وشکوئ.

زه په کابل، کندهار، جلال آباد او هلمند کې د ډاکټرانو کتنځی ته ورغلی یم، په کندهار کې یو ډیر مشهور معالج ډاکټر ته ولاړم، د یو زوړ او خرابه ودانۍ په دویم پوړ کې یې معاینه خانه (کتنځی) وه، باور وکړئ چې هلته ورسره نورې خرابه داسي کوټې وي چې خلکو د عادي ادرار له پاره کارولې، بدبویه، خیرن او چټل ځای، توره شپه، چې هیڅ د دې وړ نه دی چې هلته دې یو ډاکټر چې د نظافت څخه خبرې کوي کښیني.

د لښکرګاه ښار کې ورته د ځینو ډاکټرانو ډیر کوچني، تیاره، چټل حتی په اوس وخت کې د صحرایې تشناب لرونکې ځایونه دي.

جلال آباد ښار کې هم چې کله د ډاکټر کتنځی ته ورځي، هلته هم ورته حالت دی، یواځې ډاکټر هغه ځای روښانه او پاک کړی وي چې ناروغ د ده ځانګړې کوټې ته د معاینې له پاره ورشي.

کابل کې باور وکړئ چې د قمبر څلورلارې کې داسي ډاکټر ته ورغلی یم، د انتظار خونه کې یې په رڼا ورځ لاره نه معلومیدله، دومره زیاته تاریکه وه، او معاینه خانه یې هم ډیره بې خونده وه، کله چې مې خبره د دغه ډول نا مناسب ځای ورته وکړه، ډاکټر ډیر خفه شو، ماته یې وویل چې خلک راځي، همدا ځای سم دی، ورته مې وویل چې خلک مجبوره دي، مګر تاسي هم باید د ناروغانو د حیثیت په نظر کې نیولو سره احترام ولرئ.

تیره اونۍ د کابل نوي ښار کې یو بل مشهور معالج ډاکټر ته تللی وم، انتظار خونه د ښځو له پاره نیمه کوټه ده، اطاق یې په دوو برخو وېشل شوی، نیم د میرمنو له پاره انتظار ځای او نیم یې یو کوچنی میز پکې ایښې، پوه نه شوم چې د څه له پاره، پکه پکې نشته، او میرمنې په ګرمي کې انتظار وي، د نارینه ؤ له پاره هیڅ د انتظار ځانګړی ځای نه لري، یو تاریک کوچنی غالباً یونیم میتر په درې میتره کې دهلیز دی، همدلته چې د دریو اطاقونو دروازې پرې راخلاصي دي، خلک په ګرمۍ کې ناست او انتظار وي .

شنوزاده کلینک چې ډیر مشهور دی په مکرریانو کې دی، هلته چې د ناروغانو ډیر زیات بیروبار وی، تهکوې کې یې ډیر ډاکټران دي، دوه طرفه د ډاکټرانو کوټې او په منځ کې یې کوچنی دهلیز چې اصل کې د وتلو له پاره لاره ده، همدلته یې اوږدې د اوسپنې چوکۍ ایښې او خلک پکې انتظار وي. چې اصلاً د کنیاستلو ځای نه دی، کله چې دوېم پوړ ته هلته چې د نسائې مشهورې ډاکټرې د کتنځي ترڅنګ نور ډاکټران هم دې ووینئ، د سږې زړه وسوځي چې ډاکټران خپلو ناروغانو ته په څومره ټیټه سترګه ګوري، د میرمنو ډیر زیات بیرو بار وي، او بیا هم د دوه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

طرفه ډاکټرانو د کوټو په منځ کې اصلاً د تیریدو کوچنی لاره ده هلته په اوږدو غیرمعیاري تکیه ګاوو ناروغ نارینه او میرمنې انتظار وي.
کابل، کندهار، هلمند، جلال آباد او ځینو نورو ولایتونو کې شخصي روغتونونه هم جوړ شوي، ډیری یې نسبتاً پاک او منظم دي، مګر بیا هم معیاري نه دي.
کابل کې د فرانسویانو د روغتون د کوچنیانو څانګه هم مالیدلي ده، چې منظم او د افغانستان د شرایطو په نظر کې نیولو سره تر ډیره د ناروغانو له پاره وړ شرایط په نظر کې نیول شوي. مګر کیور روغتون بیا هغسي نه دی.
ښه شو د وزیر اکبر خان روغتون مې رایاد شو، که سهار له اته بجو مخکې سړی ورشي او یا مازیګر مهال نو د روغتون مخې ته به خلکو په خاورو کې تیکه لګولي او ناست وي، د خپلو ناروغانو سره مجلس کوي، هغه ناروغان چې بستر وي او د کوټې څخه د وتلو توان ولري. هیڅ ډول اصلاً د انتظار او د ناروغ سره د لیدلو له پاره انتظام نشته.
علي آباد روغتون کې خو بیخي سړی په ورتګ پښېمانه کیږي، او که بیا خبره د میرمنو له پاره د ملالۍ روغتون سړی کوي، له کابل او د هیواد له روغتونو یې خواه وګرځي.
بله ستونزه بې انصافي او نه عدالت او د ډاکټرانو سرابښتوب (د پیسو حرص) دی، ما اوریدلي ؤ مګر لیدلي مې نه ؤ چې خلکو به ویل کله چې مشهور ډاکټر موسی وردګ ته غریب او بې پیسو ناروغ ورشي، ناروغ چې د پیسو د کمښت او مراعت خبره ورته وکړي، موسی وردګ ورته وایې چې بیا به نه راتلي، ته نه یې خبر چې زه پیسي اخلم او د مریض عملیات او تداوي مفته نه کوم. مخکې د کارته پروان په پخوانۍ سینما کې یې ځای ؤ، یوه ورځ مې ماشوم مریض ؤ، ورغلم پوښتنه مې وکړه چې د ماشومانو ډاکټر شته، کله چې هلته ناستو د روغتون کارکونکو زما ظاهرې قواره ولیدله، فکر یې وکړ چې د جنوب لوري دی، او ډیر به نه پوهیږي، دانو سهار د ۱۰ او یا ۱۱ بجو وخت دی، ډاکټران یې نشته، ماته یې یو اطاق وښود چې هلته ورشه ډاکټر ناست دی، ورغلم، هغه ته مې ویل چې تاسي ډاکټر یاست؟ ویل یې هو، ومې ویل چې دا خو ماشوم دی زما د کوچنیانو ډاکټر په کار دی، ویې ویل چې رایې وله زه یې وګورم، خبرې چې مې ورسره وکړي پوه شوم چې نرس دی، او ډاکټر نه دی، ماورته وویل چې زما ماشوم تکلیف زیات دی، زه غواړم چې ډاکټر ته یې وښیم، خبره پرې بده ولګیدله،ویې ویل زه درته ډاکټر نه ښکارم؟ زه هم ډیر ستړی شوی وم، ومې ویل چې ډیر خاینان یاست خلک غلطوئ، ته نرس یې او زه فکر کوم چې اصلاً دلته د ماشومانو ډاکټر روغتون نه لري، زما وخت مو ضایع کړ، ولې مو لومړی ماته نه ویل چې دلته د ماشومانو برخه کې ډاکټر نشته.
اوس چې په همدې کارته پروان کې ډاکټر موسی وردګ یوښکلی ځای جوړ کړی او هلته یې روغتون دی، زه د موسی وردګ علمیت او پوهې ته احترام لرم، ډیر ښه د هډوکو ډاکټر دی، په سېمه کې جوړه نه لري، مګر له ځانه یې قصاب جوړ کړی، هلته د غریب ناروغ ورتګ نه شته، او نه هم دی اعتناء ورته کوي. زموږ د هیوا د د خلکو د اقتصاد په نظر کې نیولو سره یقیناً چې زیات ظلم کوي. هلته عموماً د ناروغانو عملیاتونه کیږي، د عملیات له پاره د کاریدونکو موادو نسخه یې له ۴۵۰۰ افغانیو څخه تر ۸۰۰۰ او ۱۱۰۰۰ افغانیو رسیږي، د درملو نسخه یې هم له ۵۰۰۰ افغانیو بیا تر ۱۰۰۰۰ افغانیو کیږي، د عملیات له پاره له ۲۵۰۰۰ څخه بیا تر ۱۰۰۰۰۰ یولک خبره رسیږي، داسي ناروغان هم لیدل کیږي چې په همدې روغتون کې یې د ناروغ مصارف تر ۴۵۰۰۰۰ څلورلکه پنځوس زره افغانیو رسیدلي، مګر الله یې جوړوي، ولي د ناروغانو سره ظلم دی، بل داچې هر ناروغ ته د ۴ ورځو له پاره د بستر پارچه ورکوي او پیسې ورڅخه اخلي، مګر که ناروغ دویمه ورځ هم له روغتون څخه وځی، پاتې پیسې نه ورکوی، د مالي بخش کارکونکی یې وایې که پروفیسور صاحب خبرشي موږ ته غصه کیږي، د یوې ورځې د زیاتو پیسو اخستلو زما هم قرضداره دی.
د وردګ صاحب ځوی کمال وردګ چې وزیراکبرخان روغتون کې دنده لري د اطرافو ناروغان چې هلته ورشي، نو د خپل پلار د روغتون ادرس ورکوی، هغه د ملا ښه عملیات کوي، بدبختانه چې مریض ښه وشکوي، جیب یې ورخالي کړي، همدغه عملیات چې دلته کوي په وزیراکبرخان روغتون کې یې نه کوي.
زما ملګری وایې جلال آباد کې مې مشهور ډاکټر احسان الله ته ماشوم وروستی، ډیر زیات معاینات یې راباندی وکړل، او زه پوه شوم چې دومره معاینات په کار نه دي، کله چې یې نسخه راته ولیکله رایې کړه، ورته مې وویل چې ډاکټر صاحب معاینات ډیر وشول، او ماته اړین نه ښکاریدل، هغه ویل چې مسکین یې؟ پیسې نه لري؟ ومې ویل چې د افغانستان خلک ټول غریب دی، ویې ویل چې له کومه ځایه راغلی یې؟ ومې ویل له کامې څخه، ډاکټر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

وويل چي پيسي دي نه لرلي ځان به دې په کامه کې تيريدونکي د کونړ سيند ته غورځولی وای. څه له راتلې؟ بالاخره خبره جنګ ته ورسيدله، نسخه او د معايناتو کاغذونه مې ورته ځيرې کړل ورڅخه روان شوم.
په ليرې پرتو سېمو کې بيا وترنران هم د ډاکټرانو دنده پر مخ وړي، استاد باير درمل چي اوس د ننګرهار پوهنتون کې د وترنرۍ پوهنځي تکړه استاد دی، هغه وخت چي محصل ؤ، ويل به يې زموږ (د حيواناتو د ډاکټر) او د انسانانو د ډاکټر فرق دومره دی، زموږ وترنر ډاکټر مريض (حيوان) دويم پوړ ته نه شي ختلای او د دوئ ناروغان ختلای شي.
په ليرې پرتو سېمو کې همدغه وترنر او نرس ډاکټران ځيني يې د ناروغانو د مرګ لامل ګرځيدلي او بيا له سېمې تښتيدلي.
زه د خپل هيواد ډاکټرانو ته احترام لرم، ولي ځيني يې ډير زيات ظالمان دي، زموږ د دورې ځيني ښه ډاکټران هم زه پيژنم چي عدالت کوي، په ناروغ بې ځايه معاينات نه کوي، اضافي درمل ورته نه ليکي، او که پوه شي غريب دی فيس هم ورڅخه نه اخلي، خو دا خلک دګوتو په شمار دي، او جز د کل تابع دی، د وچو له کبله لانده هم سوځي. عام ولس په مجموع کې له افغان ډاکټر انو څخه ښې خاطرې نه لري.
زه د بل هيواد د ډاکټر صفت نه کوم، مګر هغه افغان ډاکټر چي په کويټه کې يې زما فيس له دې کبله وانه خيست چي زه مهاجر وم، بې چاره وم، شونډې مې وچې وې، احترام او درناوی يې لرم.
هغه افغان ډاکټر چي په بره پښتونخوا پيښور کې يې د ناروغ د عمليات مصرف ۴۰۰۰۰ څلويښت زره پاکستانی کالداري وويل، بې چاره افغان ورته وويل چي موږ به مشوره وکړو، مګر د ناروغ حالت د دی نه ؤ چي مشوره وشي، ډاکټر پوه شو چي د ناروغ سره راغلي کسان د پيسو ستونزه لري، ويې ويل چي پيسې نه لرئ؟ هو، د ناروغ افغان سرپرست ځواب ورکړ، ډاکټر لږ سوچ کوي، وايي چي سبا سهار ناروغ ته خواړه مه ورکوه رايې وله زه يې عمليات کوم، نه دعملياتو خپلې ۴۰۰۰۰ روپۍ اخلي او د دې سربيره په دواخانه کې هم د ناروغ د درملو پيسې دغه مسلمان پښتون ډاکټر ورکوي، اوس تاسي يوه لنډه مقايسه زما د افغان ډاکټر احسان الله او موسی وردګ د بری پښتونخوا له پښتون ډاکټر سره وکړئ؟ چي د جلال آباد له ناروغ سره څومره مرسته کوي، مګر احسان الله د کامې له ناروغ سره څه کوي؟ او موسی وردګ د هلمند، کندهار، ارزګان، پکتيا او پکتيکا له ناروغ سره څه کوي؟
لاهم موږ په هيواد کې پرمختللی او معياري روغتون نه لرو، تمه ده چي د راتلونکي حکومت ولسمشر او دعامې روغتيا راتلونکی وزير/وزيره به د هيواد په مرکز او لويو ښارونو کې دغې ستونزې ته جدي پاملرنه وکړي.
د سکارتس اميري د زړه د ناروغيو روغتون چي د هيواد په سطحه نسبتاً ښه روغتون دی، يو کارکونکي يې ماته ويل چي موږ د روغتون له پاره نوي اپډيټ د معايناتو مشنيرې داسي مشنيري چي د ۲۰۲۰ کال له پاره به کار ورکوي، او په سېمه کې يې نور هيوادونه هم نه لري، کابل ته راوړله، کله چي ګمرک ته راورسيدله، درې مياشتي له دې کبله معطل وه چي تاسي ولي دومره پرمختللي او قيمتي مشنيري راوړي، بالاخره د عامې روغتيا او ګمرک خلکو ۲۰۰۰۰ شل زره ډالر رشوت واخيست او له درې مياشتو ځنډ وروسته يې زموږ مشنيري ته له ګمرک څخه د وتلو اجازه راکړه.
همدا روغتون چي د هند د سکارتس روغتون سره تړون لري، هغوئ معياري درمل ورته رالیږي، د روغتون کارکونکي وايي چي هر ځل په ګمرک کې د درملو په ايستلو کې ستونزه لرو، د عامې روغتيا کارکونکي وايي چي تاسي ولي د نورو افغان تجارانو په ډول درمل نه راوړئ او خپل ځانګړي درمل راوړئ. څکه چي د عامې روغتيا کارکونکي د درملو د افغان سوداګرو سره شريک دي، او له هغوئ څخه د بې کيفيته درملو په مقابل کې پيسي اخلي، زما وړانديز دادی چي د فارميسي رياست چي د درملو د کيفيت دنده په غاړه لري، دغه رياست ته دې د طالبانو د وخت هغه رئيس او يا مرستيال راپيداکړي، په يقين او ډاډ سره وايم چي بې کيفيته درمل به بيا هيواد ته رانشي، په دې شرط چي د عامې روغتيا وزيره /وزير له رئيس څخه حق ونه غواړي او صلاحيت ورکړي. د طالبانو د نيستي په وخت کې زما ياد دي چي کارته پروان کې په ټنو بې کيفيته درمل وسوځول شول، سوال نه پيداکيدی چي بې کيفيته درمل دي د ګمرک څخه ووځي، مګر په هغه وخت کې هم په قاچاقي ډول له پاکستان او ايران څخه بې کيفيته درمل راوړل کيدل.
ويل کيږي چي د ډاکټر نجيب الله په دوران کې هم بې کيفيته درمل افغانستان ته نه شوای واريدلای، هغوئ هم د درملو د کيفيت په اړه جدي تګلاره لرله.
هيڅ تمه نه لرم، او نه به هم داکار وشي، چي د عامې روغتيا وزارت دې اوسمهال چي اختلاس او فساد اوج ته رسيدلي، دا ډول راتلونکی ائتلافي حکومت هم چي ډيری به يې غله او په اختلاس او فساد ککړ اوسني چارواکي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

وي، دوی به د هیواد دغي لويي ستونزي ته پام وکړي، چي لاهم مجهز روغتون او معیاري درمل نه شته، مګر د صحت په برخه کي عبث میلیارډونه ډالر مصرف شول او د چارواکو جیبونوته ولاړل، داتمه هم نه لرم چي په معالج ډاکټرانو فشار راوړي ترڅو معیاري کتنځي، انتظارخونه ولري، او د درملو د قیمت کنټرول وکړي. یا داچي حکومتي روغتونونه دومره فعاله کړي چي د غریب او بې چاره پرده پکي خوندي شي، یواځي د دې له پاره مې لیکنه وکړه چي د ولس دغه ټولنیزه ستونزه بیا هم په کور دننه او بهر له خپل افغان بااحساسه ولس سره شریکه کړم، د ځوانانو او بامسؤلیته افغان ډاکټرانو پام ورته واړوم، په ګډه کار وکړو، تر څو حکومت او دعامې روغتیا چاروا‌کي اړ کړل شي چي د ستونزي اړوند حد اقل فکر وکړي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ